# کوچنی هیلې مو ستریږي



محمد رفیع صیاد

PROPERTY OF
ACKU
9277

# کوچنی هیلي مو ستریږي

PROPERTY OF
ARIC
Established
1989

محمد رفیع صیاد

بسم الله الرحمن الرحیم


## کتاب پېژندنه

نوم : کوچنی هیلې مو سترېږي

شاعر : محمد رفیع "صیاد"

خپرېدو نېټه : زمری ۱۳۷۹

شمېر : ۵۰۰ ټوکه

بیه : ۳۰ روپۍ

چاپځی : دانش کتابتون، قصه خوانی بازار، پېښور
فون ۲۵۶۴۵۱۳.

# اهداء:

- خپل محترم تره استاذ شهید محمد شافي ناصح ته چې د انقلاب د خونړي سېلاؤ لومړنیو څپو راڅخه وړی دی.

- خپلې قدرمنې مور او پلار ته، چې د کډوالي په سختو شرایطو کې یې د پوهې د بلې ډبوې مریدی کې وساتلم.

# منني

له قدرمن فيض الرحمن آفريدي څخه، چې زما د ګرمو بنډارونو ملګری دی مننه کوم چې د دې کتاب لګښت یې پر غاړه واخیست.
د (MSCC) د محترم استاذ مهتاب الدین واثق ډېره شکریه ادا کوم، چې کتاب یې پخپلې هڅې په کمپیوټر کې ټایپ او ترتیب کړ.

# د شعرونو د هوسیو صیاد

زلمی لیکوال ښاغلی محمد رفیع صیاد مې ډېر خوږ دوست او ګران ملګری دی. څومره چې لوی خدای (ج) پرې ښکلې څېره او ښکلې کړه وړه لورولي، همغسې يې د مينې ډك زړه هم وركړی دی، ځكه خو زموږ د نازولي ليكوال ګل- ګل خيالونه هم لري.

ښاغلی صیاد ډېر ځله خپل خیالونه او فکرونه په خواږه نثر کې رانغاړي، ډېر حساس هم دی. کله چې يوه عاطفي پېښه ويني بيا يې خوږ نثر پرې ليكلی وي. كله كله شعرونه هم ليكي، مشاعرو ته ډېر كم راځي، خو د طبعي يارانو ته خپل شعرونه په خوند، خوند اوروي.

ماته يې هم كله نا كله خپل شعرونه او نثرونه اورولي دي. كه خدای مې غلط نه كړي، داسې راته ښكاري، چې تر شعر نه په نثر كې دوه درې ګامه مخكې دی. كله چې يې له مانه د خپلو ليكنو په هكله نظر غوښتی و، په زغرده مې ورته ويلي وو:

" د خپلو آثارو د چاپولو لومړی حق به نثر ته وركوې".

خو زه لا خبر هم نه وم، چې څو ورځې وړاندې يې د خپلو شعرونو ناچاپه ټولګه راوړه. ما هم ډېر څه پكې ونه ويل. ما وې څه ښه يې كړي. شعرونه يې داسې مثال لري لكه تازه په خبرو راغلي

ماشومان. د داسې ماشومانو وړې وړې او ماتې خبرې ډېرې خوږې لګېږي.

دا شعرونه، چې صیاد صیب ته د خپلو ماشومو اولادونو مثال لري. ښه کار یې کړی چې مینه یې ورسره کړې. سړی چې له شعر سره مینه ونه کړي، نو له څه شي سره به یې وکړي.

زه په دې ډاډه یم، چې د دې کتاب خپرېدل به زموږ ښاغلي شاعر ته ډېره ګټه ولري. هغه ځکه چې دا یې لومړی قدم دی. خپل تیندکونه او ښوېیدنې ته به یې پام شي. د دویم کتاب خپرولو ته به ښې تجربې پیدا کړي. په دې کتاب کې یې د لا پرمختګ د امېد نښې نښانې شته، یو شمېر شعرونه یې پر هغو پېښو لیکلي، چې شاعر په هډ او پوست لمس کړي دي.

*دا دستور دی چې له درده زګېروي خېژي*
*ګنې څه وو د رحمان له شاعري*

ښاغلی صیاد پخپله ښکار شوی او نیمه بسمل فریادونه یې کړي دي. د ځینو خلکو جفا یې هم ژړلې ده. ځینې شعرونه یې په روایتي انداز پر هغه لاره هم روان دي، چې زما او ستا په څېر د سلګونو او زرګونو پدې روان دي.

د صیاد صیب په هکله یوه بله خوشبیني هم لرم. دا خوشبیني ځکه لرم، چې د انتقاد د زغملو حوصله یې ډېره ده. خدای دې نور هم ډېر صبر ورکړي. صابرو خدای مل دی. انشاء الله چې ښاغلی صیاد به د ښکلا په دښته کې د شعرونو ډېرې هوسۍ ښکار کړي.

*په ډېره مینه او په ډېر ادب*

*کاروان*

**۲۵/۷/۲۰۰۰**

aa پېښور

باید ووایم چې:

د زهیرو ملګرو ډاډګیرنه ده، چې د شاعرۍ د لومړۍ مرحلې خامو شعرونو مې د یوه کتاب ګوتې ښه ترلاسه کړه.

خدای شته، چې کله کله به مې په زړه کې د شعرونو د کتاب د چاپولو ارمان راغی، خو بیا به پخپلو شعرونو بې باوره شوم او ځان به راته ډېر نهیلی ښکاره شو، خو زما ځینو نږدې ملګرو زما د کتاب پر چاپولو ټینګار وکړ او ورسره یې پر دې ډاډمن کړم، چې ګوندې شاعري مې لړه ډېره تنده ماتوونکې ده.

خو په لنډه توګه باید ووایم، چې که هر شی دی او هر څنګه ده، دا دی د یوه کتاب په بڼه ستاسو مهربانو لاسونو ته درسپدلې ده، هیله ده، د زړه راښکون کوم څرک پکې درته ښکاره شي.

په خورا درناوي

*محمد رفیع صیاد*
*۷/۷/۲۰۰۰*

# غــزل

گلستـــان کی به مـزې کـړي بوراگان بیا
شي مخمور به د گل خـــوا کی بلبلان بیا

دا چـــمن به وي ښایستـــه په سروگلونـــو
په خوښ زړه به خدمت کړي خدمتگاران بیا

تــول یاران به وي را جمع پــه محفل کـــی
کړي مجلس به دخوړی مینی دوستـان بیـا

هـــریو کـس بـــه د اُلفـت غـزلــی وایـــي
وي را تــول بـــه د وطن ســـازندگان بیا

عـا شقان بـــه معشوقو سره خلـوت کړي
ملـنگان به وي غربت کـــی پاچاهـان بیـا

وي به تــول خلك مستـــی او خوشالی کـــی
د صیـــاد په مزار څلـــي به وي وران بیـــا

۱۵ـ ۱۲ـ ۱۹۹۱ پیښور

# غــزل

زه په خپله بې وســې،او ســـوزان خوښ یم
دیار غم کې مې هر وخت په خفگان خوښ یم

نه هغه چــې یــمه دور د یار لـــه خـــنگه
د یار غیږ کې بې له سوده په زیان خــوښ یم

چــې د یار نه مې جدا یـم ژوند به څه کــړم
بــې د یاره د ځــوانی په خــزان خــوښ یم

لږ شــربت د مینی راکــه چــې یې گــوټ کړم
بیا مــې پرېږده په هر قسمه نیران خوښ یم

د جلاد مخ کــې به ســر په غرور ټیټ کــړم
کــه دی امر راته وکــړ مستان خوښ یم

ستا له حــکم نه طغیان جرم عظیم دی
ســتا په امـر سـرنگون په یزدان خوښ یم

۱۹۹۲-۱۲-۲۹ پیښور

# غزل

ما عاشقي له کمال ستا یاده کړه
بیت او مصرعه می له موسکا یاده کړه

زما په خیال کی ستا خیالونه ضم دي
ستا نامه ځکه می بیا بیا یاده کړه

گل او اغزي وي همیش یو بوټي کی
ځکه وفا می له جفا یاده کړه

لال او جوهر او مروارید می ترک کړل
قیمتي مینه می د ستا یاده کړه

چړو په لاس دبیلتانه دی یاره
زما غزل ته ابتدا یاده کړه

صیاد د زړه په رنځ اخته ؤ خدا یگو
ښه شوله دا چی دی وفا یاده کړه

۲۱-۱-۱۹۹۳ پیښور

# غزل

## (دتوشيح شكل)

ما خپل ځان دی تا لپاره فدا کړې
ستا په مينه کی می نوی ژوند موندلې

حد دمينی می آسمان سره غورځنگ کړي
حددمينی می تر پايه رسيدلې

مثال ستا دښکلي مخ لکه د لمر دی
چی زما دخيال مکان يي رڼا کړې

ددنيا جاه او جلال درنه قربان شه
ما غرت دستا ومخ وته ورکړې

رنگ دلبو دی زما لبو ته ور کړه
ستا په شونډوکی می نوی رنگ ليدلې

فيض دمينی اوعطا دی راته را کړه
جام په لاس يم ستا درگاه ته دريد لې

يو ناچيزه شان احسان دی پر ما وکه
بيا به درومم که په هر لوری وم تللې

علامې دلیونتوب رابانـدی راغلـی
ستاغمونو خدایګو ډیر یم ځورولـې

صد صدی که ددنیا شي پر ماتیری
ستا د مینی به وانه وړم یم غښتلـې

یارانې په بی دلی کله کیدی شي
وي‌د ډاریارانې تـل خپل سر خوړلـې

ازمیدلی دی عالي عشق کی یم یاره
چه په هیڅ رنګه فـن نه وم ازمیدلې

د دنیا عمر می هسی هجران وخوړ
دصیاد دعشق ارمان لا جل وهلې

۱۹۹۳/۷/۲ پیښور

# غزل

دخوږ یار خواږه یادونه دي اوزه یم
دبیلتون درانه وارونه دي اوزه یم

ملاقات می دخوبنی سره ونشو
بد مرغ ژوند دی تکلیفونه دي اوزه یم

په تهولګي کی دیارانو بی ساه بوت یم
ډوب سوچونه ستا فکرونه دي اوزه یم

دخندا می کوم اثر چا صحیح نه کړو
همیش اوښکی دي ویرونه دي اوزه یم

مرحمت د ګل ورین خخه ویزار یم
دغمونو بارانونه دي اوزه یم

هیڅ پروا زما دژوند ورسره نشته
تش تصویر ته سلامونه دي اوزه یم

تهوله شپه یي دتسبیح په شکل وایم
ستا د خولی خواږه لفظونه دي اوزه یم

په خپل خیال کی ډیر په خیال خیال پکی زانګم
ستاد زلفو طنابونه دي اوزه یم

ظاهر روغ باطن کی وسوځیدم خلکو
بس دعشق سوځند اورونه دي اوزه یم

لا تراوسه پری زه سیر نشوم صیاده
دلیلٰی شراب جامونه دي اوزه یم

۹۳/۱۰/۱۹ پیښور

# غـزل

زه د رنداتو پـه مذهب خـوښ يمه
دتنگ نظرو پـه غـضب خوښ يـمه

دستا نـصيحت لـره اړمـن نـه يمه
په سورانگار ديار په لب خـوښ يمـه

که داگفتار بـی ادبـي گنـې تـه
زه بی ادبه بی ادب خـوښ يـمـه

دستا گفتار دستا رفتارمې هوش دی
په ميکده پـدی سبب خـوښ يـمـه

زه صياد عشق کی سرلوړي غواړمـه
که يم هرڅوك پڅپل نـصب خوښ يمه

۹۵/۳/۱۱ رودات

☆☆☆

٧

# دتصور لحظې

تیری شولی شپی خو په یو راز کی تیری شوی
لحظی دتصور په کوم انداز کی تیری شوی

قافلی می دیادونو ډلی ډلی میلمنی شوی
غمونه یی زما مله کړل خپله نازکی تیری شوی

په مستو اتڼونو یی دخیال کلي کړل وران
داسپینی سپینی ترکی په مجاز کی تیری شوی

داستا وړی وعدی لنډی دکال غوندی اوږدی شوی
شیبی اوږدی له ورځو کوم اعجاز کی تیری شوی

صیاد دستا په عشق کی بدنامي که کړه حاصله
هم هغه یو څو ورځی، امتیاز کی تیری شوی

۹۵/۱۲/۲ پیښور

☆☆☆

# ساز دستار

دا دخمرو سرو پیالو کړمه خمار
که داستا خمارو سترګو کړم بیمار

نور به ستا یمه شوم پاتې میخانه کې
تاچې وکړلو دا راز ناز او کردار

راشئ کینئ چې د ژوند سور مې پرې سور کړم
خلکو ما لره راځي ساز دستار

زه له نورو ګیله نکړم بخت مې خپل دی
کله خپل یار مې شي یار کله اغیار

اوس صیاد دستا په مینه ګرفتار دی
دا کوم پیر ورلره کړیدی آزار

۹۵/۱۰/۵

☆☆☆

# خاوری ارمانونه

ماته دی پیدا د زړه رنځونه کړل
ځانته دی خوښونه ډك ګنجونه کړل
ماته دی د مینی زهر راکړله
ځانته دی له میو ډك جامونه کړل
ماته دی د مینی لاری شاړی کړی
ځانته دی اسانه منزلونه کړل
زه دی په اغزو باندی سوری کړمه
تا ځانته حاصله سره ګلونه کړل
تا چی د رقیب خبری واوریدی
ماته دی مشکل د عشق شرطونه کړل
مخکی دی نه چیرته دی غصه نه وه
اوس دی راپیدا دا عادتونه کړل
زه دی د ژوندون له کاروان پاتی کړم
تاځان کی پیدا دا کمالونه کړل
تا چی د رقیب سره خندا وکړه
خاوری د صیاد دی ارمانونه کړل

۹۵/۱۰/۱۲ پیښور

☆☆☆

# د یادونو قافلې

د یادونو قافلې دي ځي راځي
په زړګي مې سرې لمبې دي ځي راځي
ته پوره یې ملکه یې بې پروا یې
بس پرما د هجران شپې دي ځي راځي
تهوله شپه دستا یادونو کې مشغول یم
هم له دوی مې مرکې دي ځي راځي
کله مخ دې ماه جبین راته ښکاره شي
کله تشې ویر اسرې دي ځي راځي
که مې اوښکې که ستا یاد که توری شپې دي
دا همه واړه ګیلې دي ځي راځي
ښه ده دا چې دې یادونه زما مله دي
د یادونو بدرګې دي ځي راځي
ستا یادونو کې له ځانه هسې ورک شم
نوش د میو دې نشې دي ځي راځي
محبت کې دې پاسخ را عطا نکړو
د صیاد لیاک جنازې دي ځي راځي

☆☆☆

۱۹۹۵/۷/۵ پیښور

# یادمی څوروي

په عشق کی دی ډیر خوښ یم خو میعاد می څوروي
وعده بـه مـی پوره کړم خـو ستا یـاد می څـوري

مطرب سره نغمـو کـی پـه یـوه رمز کـی چلیـږم
هـر کام نـاکام قبـول می خـو اشداد می څـوروي

د ستـا تـابع بـه اوسمـه او ستا بـه پـیروي کـــړم
رټل په هر مجلس کـی او عنـاد مـی څـوروي

د ستـا هـره خـبره زه د سر پـه سترګـو اخلـم
د تـا ملــه ترش جبینه بد افراد مـی څـــوروي

د ستا په یـاری وشـرمیدم روح وایـي بی قدره
وجدان را تـه پیغور کړي چې صیاد مـی څــوروي

۹۵/۲/۱ پیښور

☆☆☆

# هنرد رباب

خدای د پاره لړ یو خوګوټه شراب را
رحم وکړه زما مست زور او شباب را
چې غماز کارغه ته درس د عبرت ورکړم
آ منګلي پیاوړی د عقاب را
چې وروړسم د میني کاروان ته
ما ته بال او پر عطا داسی شتاب را
په تیاروکی د هجران یم ګمراه شوی
شه موسکی سپینه رڼا لکه مهتاب را
د هجران سیلاؤ لاهو کړمه لاس راکړه
نه! زلفان دراز لکه طناب را
چې پری وخیژم آسمان سپوږمۍ او لمر ته
ما ته عشق کی ممتازي داسی اَسباب را
په شغلو ستا د جبین باندی که سوځم
خبر بلیږه حرارت لکه آفتاب را
د رقیت سره دی یوځای لیدی نشم
زما اوسه خیر دی ما لره عذاب را
چې دی زړه سره په رمز خبری وکړم
ماته دارنګه هنر لکه رباب را
د صیاد چې پری غزل د عشق چالان شي
معلومات دی د بدن په هر یو باب را

۹۵/۸/۳۰/ پیښور

# سزا مالره پیدا

برباد شوم محبت کی سزا مالره پیدا
لوظونه د عشق مات شول جفا مالره پیدا

دا زړه دی که تورکانی د صحرا پری نه پوهیږم
اوس ها کړي او بیا نا کړي اداء مالره پیدا

تیارو د محبت کی گمراهي څه گناه نه ده
زه خوبن یم دی ظلمت کی خطا مالره پیدا

دی دوه ورځو دنیا کی می وبال د مینی اخلي
بی ترسه لاپروا ده ژړا مالره پیدا

خشاك په رنگ می سیځي هیڅ پروا می د تن نکړي
لمبه ده زه یې وسوم تعدی مالره پیدا

صیاده تاترین کی یمه خوبن ددی دنیا نه
ناکام عشق شو بلا, دا بلا مالره پیدا

۱۳/۹/۹۵ پیښور

# هغـه ته یـی

چې بې اوره سوځول کا هغـه تـه یـــې
چـې په غشو کې تهومبل کا هغه ته یـې

تـه یې شمع بې غمې، سره بـــلـیږې
چې پتنګ ستـي کـول کا هغــه تـه یـې

ډېر دی عشق کې کړل وریته آهونه باسي
چـې بـې سوده ځورول کا هغه ته یـې

بې مقصده چې په زړه داغونه کیـــږدي
هر څه هر څه نـازك ګل کا هغه تــه یــې

څوك پاچا کړې په زلفانو کې ځای ورکړي
کـوزول پـورتـه کـول کا هغـه ته یـــې

زه صیـاد پـه طــبـیانو نه رغیـــږم
چـې زمـا زړه رغـول کا هغــه تــه یـــې

پیښور ۹۵/۱/۱

☆☆☆

# غــزل

تصویر می د جانان په سرو پیالو کی وینــم وینــم
راحت می د زړګي په می، خانو کی وینــم وینم

خیر نن یی که اداء وکړه او مخ یی رانــه پټ کــړ
جریان می د غزل په تــلوســوکــی ویــنم ویــنم

نه چیرته یی مکتب شته نــه د عشق معلم پیــدا شو
دا هر خــه د طبیعت پــه فلسلفو کی وینــــم وینم

بیلتون کی یی، که ژارمــه خیر زړه به می کنګال شي
منزل ته رسیدل مــی په سلګو کی ویـنــــم ویـنم

پرون یی را ته سره لاسونه غبرګ لاسو کی را کړل
نن ستوری د اقبال می اسمانو کی ویــــنم ویـنــم

صیاده پروا نکړي که جفا یــی خپل مضمــون کـــړه
دګل بهبود د بوټي په اغــزو کی وینـــم ویــنم

۹۵/۱۰/۲۹ پیښور

☆☆☆

# غــــزل

لوبه شوله جوړه چــې زه ستــا د ستــرګو خار شومه
وویشتم وړو بې دریغه ستـا د کوځـې ښکار شــومــه

ستا پــه عشــق مشهور شومــه میړه شــوم د جلال سره
کلي ؤم ولس شــومــه ولس څخه اوس ښـــار شــومــه

کانې وم په دوړو پټ لــه هــر کاره پــریــــوتی وم
لال شومه صیقل شومه تك سور لکــه انګار شــومــه

غوره رهبري مې کړه جهان مې په غورځنګ راوست
د عشق فن کې استاذ شومه, ګمراؤ لــره په کار شومــه

پړق مې له آفتاب واخیست اقبال مـې په آسمان وخوت
تــنــدر غــونـــدی تــنــدر د غماز په سر ګوزار شومــه

خادم د خپل مسلك ومــه, مسلك کې مــمتــازی لــره
صیاد ومه ریاض د عشق او مینه کــې ســردار شــومـــه

☆☆☆

۹۵/۱۲/۸رودات

# غـــــزل

گــريـــوان چــاك يمه د ستـــا پـــه غمو ډوب يـــم
زنـگـنـونـوكــی می سر پروت، مبتلا ستا په ذنوب يـــم

بـارانــونـه مـــی د اوښکو را بهيږي لـــه چشمانـــو
زه لايق ددی سزا يم چی مئين مـی پـه محبوب يـــم

فـلسفــی مـنی ولوستلی د جهاڼ ښخه پـــه خـوا شـوم .
بـــد می ستا يي ادم زاد ټول بد پريوتی پـه قلوب يـــم

زه خو وايم لاره داده، د رنگين جـــانـــان پـه غيـږكـی
گمراهۍ نه يم خلاص شـوی، ترو د عشق په ښه اسلوب يم

تـه يـــی لمـــر زما د مينی زه صيـــاد د ســـبا ستـــوری
پـــه شغلـوكـــی دی پـنا كـړم دنيا گۍنه په غروب يم

۹۵/۷/۱۷ پيښور

☆☆☆

# سور صلیب

له سره رنګ غخه خوند اخلم، دا زه څرنګه عجیب یم
په سور اور کی امن غواړم، د عشق جنګ ته سور صلیب یم

له حسرته می لمن ده، په دی ترمو ترمو اوښکو
لمده شوی سبب دادی، چی زه تالره قریب یم

ذکر ستا دی، صفت ستا دی، له لبانو نه پریوزی
دا جادو ستا که منتر دی، چی زه تالره منیب یم

تصور د هغه وخت می، کله خیال ته داسی راشي
چی ته مالره طبیب یی، او زه تالره حبیب یم

زما مینه په رښتیا ده، صرف ته زما خوښیږې
ته زما د زړه سکون یې، بیا دی زه څنګه رقیب یم

زه صیاد تاته رنګونه، د الفاظو سمندر کی
لټووم په رنګین خیال کی، ستا په عشق باندی ادیب یم

۹۵/۷/۱۷ پیښور

☆☆☆

# توری سترگی

سیلابونه ,سیـــــلابونه توری سترگـــی
لوړموجونه, توپـانونه تـــوری سترگــــی
ورلاهوشومه د عشـــق پــه سمندرکـــی
کوي داسی پساتونه تـــوری ســـترگـــی
دمعصوم نـظر یووالـــي زړه درزاه کی
پر زړه جوړکاندي زخمونه توری سترگی
په بڼو باندی دزړه مـــــی میلمستیا کړي
دي د یار می عزتونه تـــــوری سترگی
د دنیا په کمالونـــو باندی څــه کـــړم
بس د ستا دي کمالـــونه توری سترگـــی
هم دنیا ده, هم ده مینــه, هم ده وینـــه
دي وما ته جهانونه تــوری ستـــرگـــی
کله گل شي, کله یار اوکلــه خـــارشـــي
داشنا کوي نازونه تـــوری ســـترگـــی
پوهیدل پری گوره دومره آسان نـــدي
کوي داسی کلامونه توری ستـــرگـــی
هیڅ علاج یـــی طبیبانـــو ســـره نشتـــه
په زړگي کړي گوزارونه توری ستـــرگـــی
د چا مخ, شونډی اداء شي غـــــزلونه
دصیاد دي غـــزلونه توری ستـرگـــی

☆☆☆

۹۵/۵/۳ پیښور

# پلَو

دپــــلو لاندی که گــوري پــټه ښــه ده
دا پــټ راز د محبت اونښــخه ښــه ده

پرپرده عشق کی راتخلیق کړم نــوی لاری
د باطلو مـــــذهبو هم لټه ښـــه ده

پام چي زړه نه می چاره د عشق لرنکـــړئ
دا همیش لپاره زړه کی ښخـــه ښـــه ده

خیر که ښکار کړمه د ستا قاتــلو ستــرگـــو
وا به نه وړمه له عشــقه هڅــه ښـــه ده

خلك وایي جواري ده مینــه مه کــــړئ
ما صیـــاد ته دا تــاوان اوگتــه ښــه ده

۱۹۹٤/ پیښور

☆☆☆

# غزل

دا خوب وینم که ښنگه ستا نظر دی نـوی نـوی
نن بیا دی په سپین مخ راخور دفتر دی نوی نوی

کم عقلی خوله دی بنده کړه په سترګو کی حل وایه
خواږه رقیب غماز شول دا اثر دی نـوی نـوی

دا نن ښنگه زما د زړه دا توره شپه رنـهـا شـوه
سور لمر په شپه راوخوت که قمر دی نـوی نـوی

د وروځو په محراب کی یې څه بل رنګ اوربلیږي
پوهیږم نه نن ښنگه ناز پرور دی نـوی نـوی

دنورو اندازونه می بـاور کـه کـه خـوښیـږي
د یار انداز انداز دی چی اکثر دی نـوی نـوی

صیاده اوس ورڅمه چی اظهار د مینی وکـړم
زوړ خیال می نوی شوی چی بشر دی نوی نـوی

☆☆☆

# سکون

نن می کړی یوه گناه ده دشرابو په نشه کی
یږ مخموره په شرابو، درندانو میږخانه کی

شول قضاء فرضي لمونځونه دا ښکاره جرمِ عظیم دی
د تنکو ترکو په سیل کی' دژوندون په تماشه کی

ملامته ما مه بولئ' د ښایست په جادو گیریم
مالا وخته زړه بایلو دی' دپیږمخو په کوڅه کی

کله ها کړي کله ناکړي' کله خانته می رابولي
کله شرم نه مخ پټ کړي' کله و خاندي غصه کی

کرشمی او اداگانی' دصیاد دزړه سکون دی
کله ښکل دیار سپین مخ کړي' دمزاقو په بانه کی

۹۶/۲/۷ پیښور

☆☆☆

PROPERTY OF ACKU 9277

# شیش محل

لیلٰی زما د مینی شیش محل ته تله راتله
سلگۍ می د خوږمن زړګي درمل ته تله راتله

چې کله می دزړه په وینو لار کړه ورته رنګ
هغه په غیرو لاروبیا منزل ته تله راتله

چې څومره به می شاته له خپل خیاله غورځوله
بې واره به زما د زړګي تل ته تله راتله

بیا زړه به می خوشال شولو چې خدایږو زه یې یادیم
چې پوه شوم د شریر رقیب تکل ته تله راتله

مړو اوښکو می د زړه پرسر تنها کوته راز ورکړ
لیلٰی وه جادوګره ستا اجل ته تله راتله

صیاد ورته پخپل خیال کې زلفان وو سینګار کړي
دی نوي طرز کې جوړ کړله څه چل ته تله راتله

☆☆☆

پیښور. ۹۵/۱۲/۱۹

# خــط

په نظر کــې مې جوړ شوی د وصــال خـــط
ستــا دمــخ‘دقــدانــدام‘ د تـهول جـمال خـط

دزړه سر باندی می شیـن زخـم تــخــنیـــړي
دا اثر دسپين تندي ستا دشين خـــال خـــط

لکه لمر غونــدی شغلو بانـدی مــی سیځـــي
سـه پری پوه يم چي دی اور ستـا دمشال خط

پـه نړی‌دی ثــاني نشتـــه نـاز پـــروري
نــه بـه ستـا پـه رنگی راشـي بل مثال خط

چې مې زړه لره سکون بخښـي عذاب کـــې
ستــا پـه مخ کـې اخښل شـوی دکمال خط

بـــس صيـاد تـه تـا دنـده پـه دنيـا ورکـــړه
اوس مصروف دی لوستی نشي د ليکوال خــط

۹۵/۱۲/۱۰/پيښور

☆☆☆

# میخانه کی

مُلا سره می کړی قسم مات شو لو نشه کی
ساقي ستا میخانه کی
راغلی یمه تالره له هر چانه پرده کی
ساقي ستا میخانه کی
شاگرد زه دمُلاوم' طالب وُمه د دین
ما هرخه وو پریښودي' تارك وُمه رښتین
پوه نشومه په ځغا سته راغلم ستا خواته په شپه کی
ساقي ستا میخانه کی
ماکړی نصوحا' توبه وه په رښتیا
چی بیابه په دنیا 'عشق نکړم له هیچا
زه کلك په خوب ویده وم لیلٰی راغله په غُصه کی
ساقي ستا میخانه کی
ساقي دهمدی ځای شوم' پام خوك چی خبر نکړی
مُلا لره اغزی شوم' ورگډمی په شر نکړی
اوس څه پلمه کړم جوړه زه می پیرته په ستنه کی
ساقي ستا میخانه کی
زه خیال ورحواله کړم'ملا ته چی صالح شم
له می'میکدی واوړم' می‌خوارزوته ناصح شم
زوړ زخم بیا تازه شو د صیاد په غمکده کی
ساقي ستامیخانه کی

☆☆☆

پیښور / ۱۹۹٤

# هـــــار

زما د زړه پر سر د مینی یـــو پـــر هــــار جـــوړ کـــړه
ماته د ستا خوږ و غمونو نه یـــوهـــار جـــوړ کــــړه

ماته جولی جولی غمونه په ډالی کــــې را کــــړه
رنځونه را کــــړه د دردونـــو یو انبار جوړ کـــــړه

چی می دزړه غوښې پرې وسوځي وریتې وریتې شي
سری اتشي شو ندی دی پر انیزه انگار جوړ کـــــړه

چی عبادت وکـــړمـــه تا لـــره سجـــدې ولگـــوم
مـا تـــه د ستا محترم زړه کې یو دربار جـــوړ کـــړه

یـــو ځلـــې راشه د صیـــاد مینی تـــه رنگ وبخښـــه
آخر هم یوُن دی رقیباتو تـــه آزار جـــو ړ کـــــړه

جون/ ۱۹۹٤ پیښور

☆☆☆

# غـــزل

دانــن دې لــه ما خنـگه ځان کنار نيــولی دی
سکاريـږي چې طـرف دې داغيـارنيـــولی دی

نخرې دې نــوې نــوې پــه ما وکـړلې سردارې
زمـــا هــر يو احســاس تــه دې گوزار نيـــولي دی

تــه ننگ مکـړه مغرورې په همدې کې دې فايده ده
پــه ننگ د ستــا غــموکــې ما دربـار نيـــولی دی

زه ستـــا پــه مينــه مســت يمه قسم له ځا نـــه تيريم
خپــل ســر مې هر جلاد لــره پــه دار نيــولی دی

د ستـــا يــا دونــه چيــر تــه ځي له تا نه وفادار دي
پـــه تــل زمـــا دزړه کـــې يـي مـزار نيـــولی دی

يو څوك خودې په ما باندې غلط احساس ثبوت کړي
بيـــا غېر دی کړي صيـاد مونـږه بې لار نيـــولي دی

آگست/ ۱۹۹٤/ پيښور

# سوال او جواب

ویل مې څو پوری می اور کې سوځوې
ویل تر څو چې شې په عشق خاورې ایرې

ویل مې څله مې آ هونه له خولې باسې
ویل نه اورمه آهونه ستا دخولې

ویل مې هسې نه خیره مې پر خوله راشي
ویل تأثیر نکا پر ما دستا خیرې

ویل مې کله راته سبه او کله نه کړې
ویل مزه کوي د عشق داسې نخرې

ویل مې عمر دې زما په وعدو وخوړ
ویل د ښکلو وې همیش داسې وعدې

ویل مې زه دې د وصال په طمع ژوند کړم
ویل لا چوپ شه ډیرې پاتې ورځې شپې

ویل مې ته څما اسره د نن سبا یې
ویل کړېږه خوندي وساته اسرې

ويل مې صرف راته هوا ويا خونه کړه
ويل د زړه مې تسلي نشي په دې

ويل مې خله دې له کار او باره وکښم
ويل وچا رادعوت کړی وې دلی

ويل مې مينه درنه غواړم لاړ به نشم
ويل منظور نه دي دلې دچا گيلې

ويل مې درکې دستا خوښ يم چې ديدن کړم
ويل خپل کار لره ورځه که مې منې

ويل مې خله دې وطمع راسوله
ويل چې پاتې شې د عشق له قافلې

ويل مې هه دا تيغ درواخله سرمې پرې کړه
ويل سبه داده چه نه روغ يې او نه مرې

ويل مې اوس صياد ته لاره د ژوند ترو کړه
ويل چې خپل کار به نور کړم او خپل به کړی

☆☆☆

۱۱-٦-۹۵ پېښور

# غزل

په چا بنه لګي د د يار خبرې
دچا خوښيږي پول دينار خبرې

خبرې ډيرى په مجلس کې کيږي
ما ته محبوبې مې د يار خبرې

ريبار ته لار ورکړئ چې خواته راشي
ديار کوي راته ريبار خبرې

ستا زيورات او شنه بنګړي کړي ګفتار
هم دپيزيبو دي شرنکار خبرې

څما خوښيږي دګودر دغاړې
دمنګوتيو دقطار خبرې

پام چې دچا په چال غلطه نشې
خير که څوك کړي هزار هزار خبرې

ځما او ستا مینځ کې زره شر نه وي
رقیبان جوړی کړي انبار خبري

زه خو بد نه وایم صفت دی کووم
پوهیږم نه ښنګ کړي رفتار خبري

ګوره دچا وینا ته غوږ کې نږدی
دهر رقیب دي سور انګار خبري

بیا به یې چیری تر خپل ښنګ پری نږدم
دا شیطانان کړي دآزار خبري

که دی صیاد سره په ژوند ونکړی
بیا ورته مکړه په مزار خبري

پیښور ۵۹/۲/۵

☆☆☆

# غــزل

دا د خمــرو ســرو پيالــو کــړمً خــمــار
که دا ستــا خمارو ستــرګــو کــړم بيمــار
راشــه ګــلــی پــه ميده قدمــو راشــه
راشــه وکــړه د خــارو پــه رنــګ رفــتــار
نور به ستا يمه شــوم پــاتــی ميــخــانــه کــی
تــا چــی وکــړلــو دا راز نــاز او کـــردار
راته راوړه چی د ژوند سور می پری سور کړم
ســاقــي مــا لــره راځــي ســاز د ستــار
يوګړی‌مــی بــې لــه تــا تــيــريــدای نــشــي
پــه بيــلــتــون کــی دی وريــتــيــږم پــه انــګار
زه لــه نــورو ګــيله نکړم بخت مــی خپل دی
کلــه خــپل يارمــی شي يــار کــلــه اغــيار
اوس صيــاد د ستــا پــه ميــنــه ګرفتــار دی
دا کــوم پيــر ورلـــره کــړی دی آزار
۹۵/۱۰/۵ پيسنور

☆☆☆

# غـــزل

ډیـر مخونه مـی تـرك كـړي سـتـا لـپـاره
د سـتـا مـخ و تـه كـتـل راتـه ثـواب دی
په هروخت كی انتخاب كه څوك ديار كړي
لــه اولــه انــتـخـاب زمــا جـنــاب دی
ديــارانو په محفل وخـت نـه تـيـريـږي
دا زمــا څــواني ومـا تـه لوی عـذاب دی
لا تـراوسـه مــی خــوښـي لـيـدلـی نـده
دامی ژوند، دامی قسمت، دامی شباب دی
پــه جفا باندی يی زه سـتي سـتـي كـړم
يار له لاسه مــی دا زړه كبـاب، كبـاب دی
كـه نكيراو كه منكر سوال جواب غـواړي
مـا پـدی دنـيـا وركـړی خـپـل حساب دی
نـن راوړی مـی ديـار غـمـو هُـجــوم دی
بـيــا راخـيـستی مـا صـيــاد د غـم ربـاب دی

۹۵/۹/۵ پيښور

☆☆☆

# غـزل

ما تـه ووايه تـه څـه يـې　　　تـه انسان کـه فرشته يې
معجزه دی راښـکاره کـړه　　　تـه د حـورو ملـکه يـې

چې لمبه نه يې نوښـه يـې　　　راتـه ووايـه شاهـکاری
ايـری کـړی دی زه نـه يم　　　په ناخوالی او نـاچـاری
په جهان بـه يـی ورنـکـړم　　　ستا دا دوه سترگی ملالـی
ځمـا روح بـه درسـره ځـي　　　که تـه چيـری رانـه لاړی
څـو حاصلـه دی زه نکـړم　　　کښی بـه نـه نم پـه قـراری
نه پوهيږم څـه تـأثـيـردی　　　ای پی‌ رويې باکـمـالـی
ډيری نوی می تخليق کـړی　　　ستا په عشق کی نـوی لاری
ولـی تـه پری پوهه نه شوی　　　ځما عشـق باندی نادانـی
فکـر و کـړه گـوره نـدي　　　دا لحظـی دومـره ارزانـی
مـا تـول عمر تا تـه درکـړ　　　فهـم وکـړه قـدردانـی
پـه ژوندون اعـتـبـار نشتـه　　　شپی دي باد غوندی روانی
راشه راشـه چی لړ.کښينـو　　　ژر شـه راشـه ای جـوانـی
په هيڅ حال به دی پری نږدم　　　دا خبـری دي محـالـی
په آخر می زړه شادان کـړه　　　کـه څـو نه يم د ايـساری
عشق دمرگ گوزار دی کـړی　　　پـه صيـاد باندی څو واری

۹۵/۲/۱۲ پيښور

☆☆☆

# سنگین بار

یاد یې راته راکړلو گوزار په زړه
جوړ شو د غمونو سنګین بار په زړه

ورو ورو را خوره شوه تخیل کې مې
مینې یې آباد کړلو دربار په زړه

خوب نه شوه راویښه داویده مینه
بل یې کړ د مینې سورانګار په زړه

بیا یې په شوخۍ باندې لاس پورې کړ
ښا یې را نازل کړي کوم اوتار په زړه

څنګه یې زه تالره دروړاندې کړم
څه باور په کاردی څه ادبار په زړه

شپه ورځې غږېږه په نغمو د غم
ښه لګي ربابه ستا ترنګار په زړه

ولې به صیاد اوس سر په تل نه ږدي
تا چې ورسره وکړو قمار په زړه

۱۹۹۴/ دویم فارم-جلاآباد

☆☆☆

# د یار کوڅه

بیا د یار کوڅه کې مې گذر شولو
یاد یې په زړګي را زوروز شولو

زه یې هر یو یاد اوس په بدۍ غندم
یاد یې که ښو بد ؤ منور شولو

اوس مې د زړه هغه مینه نښته دی
جوړ اوس د جفا چې پرې اثر شولو

بیا مې په بار بار تصور رنګ کاندي
رنګ مې په سرو وینو هم ځیګر شولو

مانه یې شعور او پوهه وړې ده
ورك رانه په مینه کې هنر شولو

خیر دی که جفا یې غیر کې واخیسته
شعر کې د جفا مې جوړ دفتر شولو

دی که په جفاباندې لاس پورې کړ
صبر کې صیاد د عشق سرور شولو

۲۷/۹/۹۴/ پیښور

☆☆☆

# دبسمل ترانه

آفسانه شوم افسانه شوم ستا د مینی افسانه
راخوره شوم ترانه شوم، د بسمل یوه ترانه

صداقت لاړو زخمي شو، یوی خونخواری کړلو قتل
دوکه بازی جادوگرۍ، جفا وگنهله اصل
د جفاگوزار یی وکړ، په یو عشقِ جانانه
راخوره شوم ترانه شوم، د بسمل یوه ترانه

په مخلوق کی یي بد نام کړم، هم دوستانو کی رسوا شوم
پخواني لوظونه یی هیر کړل، اوس دخلکو دخنداشوم
یا خو زه بی حد ساده یم، یا ظالمه زما نه
را خوره شوم ترانه شوم، دبسمل یوه ترانه

ما دی صبر قبول کړی، خو په دروغو څگرخون یم
بس وفا زما جامه ده، په وفا باندی مفتون یم
که جفا څوك له ما کاندي، دی بدبخته سیا نه
را خوره شوم ترانه شوم، د بسمل یوه ترانه

ماته یي نن سبا کوله، ناجایز یي استعمال کړم
په خندا د بازاریانو، زه صیاد یي بنه سنبال کړم
حقیقت باندی پوه نه وم، څه درواغ څه بهانه
راخوره شوم ترانه شوم، دبسمل یوه ترانه

☆☆☆

۱۹/۹/۱۹۹٤، پیښور

# دطنـــــزژبــــه

هيـخ دژوند پروا مـی نـکړي لـه يـاری کـوي انکـــار
پـه جفا باندی زخمي يم ، په زړگي يـی کـړی گـوزار

مـا تــه مينـــه يـــی وه راکـــړی، وه لـــه ما نه نا خبره
محبت يـــی صـرف لـــه ما ؤ، وه زمـــا دزړه ســـروره
چـی لـــه ژونـد، مـی آگا شوه،مخ يـی واړاوه پـه وار
پــه جفاباندی زخـمي يم،پــه زړگي يـی کـړی گوزار

ويـل يـی مينه له بدای کړم،داغريب مخونـه ورك شـه
چی غريب وي او کړي مينه،هغه خلك هميش سپك شه
لـه سبـا يست سره يی خه کار، له پیرمخو يی خه روزگار
پــه جفاباندی زخمي يـم، پـه زړگـي يـی کـړی گـوزار

مـا ويـل زه يم مـلامتـــــه، معـــا في غـــواړم هزار بـار
دا وعــده مـی درســره ده، چـــی پـــه تـــانلـرم کـــار
کــه دی بيـا مخی تــه راغلم، پـه عشـق مه مـی کړه ادبار
پـــه جفاباندی زخـمي يـم، پـه زړگي يـی کـړي گوزار

بیا دطنز په ژبه یې ووې، چې پخپله مونږ غریب یو
څه خپلوان مو په خارج کې، څه و دلته په تعذیب یو
نه مو شپه سبه، نه مو ورځ، نه مو حال شو په کرار
په جفا باندې زخمي یم، په زړګي یې کړی ګوزار

د یارۍ په راز وه پوهه، نزاکت باندې آګاوه
کله چوپه خوله غاړوله، کله نیمه خوله خنداوه
دمرګون اسباب حاضر وو، بانه غشي وو تیار
په جفا باندې زخمي یم، په زړګي یې کړی ګوزار

چې د یار څه فیصله وي، ده په سر سترګو قبوله
که څه وایي ډیر ښه وایي، دا خبره ده معقوله
دچا څه دصیاد ځان، که یار سیځي په انګار
په جفا باندې زخمي یم، په زړګي یې کړی ګوزار

اکتوبر/۱۹۹٤/ پېښور

☆☆☆

# دوفـــا لار

مه می وژنئ خلکو ناروا د یار وژلی یم،خوږلی می گوزار
نــلرم طاقت د صبر زغم څخه لویدلی یم،یم په زړه بیما ر

مـــا نــه مــی د ځان او د جـــهان خبـــری مه پوښتئ
مـــا نــه د منـزل او د کـــاروان خـبـــری مـــه پوښتئ
وپوښتئ جفا ،جفا په زړه باندی داغلی یم، نه می شته قـرار
نلرم طاقت د صبر زغم. څخه لویدلی یم،یم پـه زړه بیـما ر

مـــړ پــه تـــوره ښـــه یم، نـــه پـــه تیـغ د رسوایـی
مـــرگ تــر یـنـــه بهتـــر دی نه ژوندی پـه بد نــامی
ورك د مینی نوم شه چی پدی نوم ژړیدلی یم ،وفا نشوه پکار
نلرم طاقت د صبر زغم. څخه لویدلی یم،یم پــه زړه بیــما ر

نوم به یې بیا وانخلمه لـه نـــوم یـې انکاري شـــومـــه
د دی بزدلی مینــه کـــی لـــه کـلـي فراري شـــومـــه
بیا به پری ورنشم د وفا په لارکه تللی یم، ورکـه شـــه دا لار
نلرم طاقت د صبر زغم څخه لویدلی یم،یم پـــه زړه بیـما ر

ولـــی بـــه صیـــاد تـــه د جفـــا خبـــری نـــه کـــوي
بـنده یی سپینـــه خـولـه شوه د وفـا خبـری نـه کـوي
غوزۇ پوچ دننه په ظاهر یي غولیدلی وم،عبث یی کړم آزار
نلرم طاقت د صبر زغم څخه لویدلی یم، یم پـــه زړه بیما ر

☆☆☆

پیښور/ ۱۹۹٤/۱۱/۲۱

# زولنې

خندا یې راخوره شوه آهنګونه زولنې شوی
په شرنګ د پایزیبونو مې فکرونه زولنې شوی

روان د خیال منزل ته وُم ناخاپه پکې ګیرشوم
د چا ظالمې سترګې او نظرونه زولنې شوی

د بخت د خاوندانو زنځیرونه لاس نه پریوځي
زما په لاس ملګرو سره لاسونه زولنې شوی

د بخت مې تندی مات شه چې یي غم ته برابرکړم
ورکیوتم نصیب مې سره اورونه زولنې شوی

ناتړ سو دهجران خپیرو مرګ ته مخامخ کړم
په مخ مې جوړ دغم له لاس شپولو نه زولنې شوی

له چا نه ګیله وکړمه اوچا ته فریاد وکړم
د یار له زلفو جوړ راته تهالونه زولنې شوی

قسمت په تقدیر خوار یمه صیاده زه ګرم نه یم
د سوچ په بند بندي یمه سوچونه زولنې شوی

۱۹۹۸/۳ پیښور

☆☆☆

# ستا په ستر گو

که جهان دی معطر دی ستا په ستر گو
که ښوبددی بیا بهتر دی ستا په ستر گو

چې همیش درته ولاړ لاس په نامه یم
نورڅه ندي دا اثر دی ستا په ستر گو

نور له ما غریب نه څه غواړی خوشرویې
زړه زخمي، زخمي ځیگردی ستا په سترگو

ما ته مې د صبر راکه پریشان یم
د هر چا غم مې په سردی ستا په ستر گو

ملنگي يې چې د ستاد دراخیستی
صیاد نن سبا آفسر دی ستا په ستر گو

۲۳/۳/۱۹۹٤/ پیښور

☆☆☆

# دجفا غــزل

مـا پـر يږده چې غـزل نـن دجفا راوبـا سـم
رازونه پټ د مـيـنـې خـه رښتـيـا راوبـاسـم

زمـونـږ د دواړو مـيـنـه پـه پـردو کـې وه نغښتـې
تر خوبـه وي سـاړوبـه پـرې چې سا راوبـاسـم

عالمـه جفا خـه ده بس يـولنډ شانې مضمون دی
په لنډو خو لـفـظـونـو بـه يـې رسا راوبـاسـم

هغه پـه جـفـا لـويـه پـه جفا بـانـدې عـادت ده
زه دې مغلـق مـرض تـه خـه دوا راوبـاسـم

غوټۍ غوټۍ دي وينی 'غوټۍ شونډې' غوټۍ اوښکې
زه دا شـان معماؤتـه خـه معنا راوبـاسـم

په غټو تورو ستـر گـو يـې اثـر د جـفـا خـپـور شـو
نور خه ظلم سـتـم 'خـه يـې گناه راوبـا سـم

خپل زړه ډك له حسرته مې پـه تـړمو اوښکو و مينځ
شبنم پـه سـر د سـور گل بـه سبا راوبـاسـم

بيا وربه شم صيـاده زه بـه هـم جـفـا اظـهـار كـړم
د الفظ پـه د زړه تـل نـه خـامخـا راوبـا سـم

☆☆☆

۱۹۹۷/۵/۲۷، پيښور

# دزړه ناسور

په سرو وینو مې زړګی دی ګلګون سور
کله ښه به شي زما د زړه ناسور

ډاکټران زما د زړه طبیبان نه دي
دنا صح مُلا هم نشته کوم قصور

هر یو هډ مې د بیلتون په تبر غوڅ دی
روغ صحت خر ګندومه له ضرور

دخوښۍ د میو جام مې هیڅ ګوټ نکړ
نه مې رنګ چړی لیده شي په سرور

د ښو لیمواو ستر ګو یي اثر دی
د یار هر اندام آواز کړي د غرور

۱۹۹۷/٦/۳ پیښور

☆☆☆

# رسوایی وژلی یم

له یاره گیله نکړم غریبۍ وژلی یم
په عشق کی بی وسی زه هر ګړی وژلی یم
غیرت می په چاوکړلو څواني می پرې لوګی کړه
دا څکه چی پښتون یم ښه څوانی وژلی یم
چی وی غور څوه نوم زما دخپل یاد له کتابه
اجل عزرائیل څه وي مایوسی وژلی یم
د زړه کورته می دومره اند یښنې چاپیلمنې کړې
دا ټول زما قصور دی زیرکی وژلی یم
ما کړي به یو څه وای ټول عالم به لاس په خوله وای
افسوس بی حدافسوس چی بیوسی وژلی یم
ډیر زیات شوم نا امیده ستا د عشق له نعمتونو
یو خوا د ستا جفا بل پردیسی وژلی یم
خپل زړه می ورته کیښود د وفا په سپین میدان
په غشو د جفا سپینی سپېږمی وژلی یم
که هر څنګه می وژني بهتري می د خپل شان ده
خو! صیاده په ژوندوني رسوایی وژلی یم

۲۳/۱۲/۱۹۹۶/ پیښور

☆☆☆

# غــــزل

سوځوه مې سوځوه مې ' د سورعشق په ګرم اُورکې
په ښا يست باندې مغرورې' په محلت او کلي کورکې

مهربان نظر ونکړې ' ګوندې خه به درنه کم شــــي
یا نظر به دې ضايع شي'یا به فرق راشي په سورکــې

بس کاته کوه په ترخ تـرخ' پـه مغرور نظر راګـــوره
په خامو ش خنجر مې وژنه' جنګ مزه نکا په شورکې

ښه هغه چې توبه وکړي ' حاجتمـن لـره دوا شــي
نه د دين نه د دنيا شوم' لامشهور شوم ستا په تورکـې

۲۵/۱/۱۹۹۷، پیښور.

☆☆☆

# غـــزل

ساقي يو گـوټ خـو راکـه زړه ارمـان نـيـولـی دی
بـدن پـه درد اخته غـم د جـانـان نـيـولـی دی

اخلاص سترگو کی راکه چی زړگې می پری خړوب شي
د غـم عـالـم غضب نه ټول جهان نـيـولـی دی

دا ستوري هـم نـشـه دي د سُبـو ستـونـه نـکـړي
په گرده خـامـوشـی کـې يـي آسـمـان نيـولـی دی

سکنی سکنی ماښام دی اوبلبل هم مغموم ښکاري
کـابـل زمـا د مینـی تـور هجـران نيـولـی دی

نه دام شتـه دی، نه جام شتـه دی، نه مينـه نه الزام
بيا ولی قاضي تا زمونـږ گـريـوان نـيـولـی دی

دامـه وايـئ مُـلا قـاضـي سـاغـره څخه خلاص دي
رفيع هم ساغر لاس کـی پټ پـنـهـان نـيـولـی دی

۱۹۹۷/۶/۲۸ / پيښور.

☆☆☆

# غـــزل

مرجونا یم د خیـالـونـو زه رنگـه مخـونـه غـواړم
له نرگسه چې خمار شم داسې شوخ نظرونـه غـواړم
مـرغـلرې د خیـالونولـه پیغلوټ پـلونـه بـاسـم
د مدهوشو پیغلو غیـږکې داسې سست خوبـونـه غـواړم
چې بربت د عـشـق غـږیږي داما غزه راتـه درانـه کـړي
چې مدهوش په لونگین شم داسې مست بویـونـه غـواړم
هر ساغر شراب شـي هر سـاقـي شـي مـهربانـه
د دی وخت پـه انتظار یم دا نـادر وختـونـه غـواړم
د رباب نازك تـرنـگار وي پـه زلفانو کـې راگـیر یـم
چې سرود غیرې د مینې زه هغـه تـارونـه غـواړم
چې سرې شونډې رانـزدې کړي سترگې سترگوکې راواچي
زلـزلـه پـه بـدن راشـي هغـه دم دمـونـه غـواړم
زه ښـپوداسـې راگـیر کـړم دنایاب خیـال سمنـدرکې
زه پـه هـوش کـې لیـونـی یـم نـاز او شـاز مـوجونه غواړم
د زړگي پـه خیالخانې مې تنکـو تـرکـو هـجـوم راوړ
یـو سفر نوی شـروع شـو زه هـم دا مـزلـونـه غـوارم
پخوانـۍ ښـه ارادې دي دازړې ښـه فلسفې دي؟
زه خسته لـه دی مضمون شوم زه ښـه نـور خیـالـونه غواړم
د صیـاد د زړه سکون اوس پـه نـوښت شاید پیدا شـي
د نـوښت فلسفـه نـوې زه هـم دا لیـکـونـه غـواړم

☆☆☆

پیښور، ۱۹۹۷/۹/۳

# د توروشپو ملکه

ملکه د تورو شپو وه
تورو شپو کې وه راغلې
تورې شپې شوې پرما جوړې
تورو شپو کې رانه لاړه
زما ورځ یې توره شپه کړه
زما سترګې یې ړندې کړې
خوب یې یوړلو له ما نه
تورې شپې مې شو ګیرې شوې
چار چاپیر رانه تیار شوې

☆☆☆

جادوګره د تیارو وه
بس تیارې یې زما ملې کړې
په یو تور حجاب کې راغله
تور پړونې یې پر ما خپور کړ
لاس یې خوله باندې راکیښود
وې یې چوپ چې غږ ونکړې

☆☆☆

بیا موسکې به شوله ماته
سپین غاښونه به یې ښکاره شول
توره شپه به یې رڼا کړه

د غاښونو و بريښنــــا بـــه
زمانه کې بريښ پيدا کــړ
مخ بربنډ به يې له نقاب کــړ
دسپوږمۍ رڼا به تيت شــوه
توره شپه به سپين سبـا شــو
زه حيران به ور ته ناست وم
نــاديـده د دې جهـان وم
چې نازونه به يې ډيــر وکــړل
بيا به يې مخ حجاب کې ونغښت
شــوه لــه ځـــای بـــه راولاړه
سترګې ماته بـــه يې کړې سيخې
ويل به يې ځمه بس دې کورتــه
هسې نه چې څوك اوس راشـــي
د سيلـۍ بـه پـه هـــوا شـــوه

☆☆☆

زه تــراوســه پرې پوه نشوم
څه بـــلا څـــه معـمــا وه
څـه لــپـاره بـــه راتللـــه
څه مطلب څه يې معنٰی وه
بس همدابــه يې مطـلـب ؤ
چې داغونه يې پرما کيښـول
او زړګې يـې رانــه يــــوړو
اوس له ځانه څخه ورك شوم

ښايي داسې دې دنيا کې
د دنيا په تله سپك شـــوم
۱۹۹۷/۹/۲۸ پېښور

☆☆☆

# غــزل

دا ځــه رنگ نــظاره وه دا مظـهـر د لیــونــو ؤ
چې لال یې جوړ له کاڼـي کړ نظـر د لیــونــو ؤ

ساده وې لیونـی، وې لــه خپـل حُسنه نــاخــبرې
پــه لار د عــشــق چې راغلی دا اثر د لیــونـــو ؤ

غــزل کــې یې راونغښتې د خیال یوه ملکه شوې
د عــشــق بازار دې گــرم شو دا شر د لیــونـــو ؤ

راجوخته یې کړې مخ ته د گلاب په شان یې بوې کړې
د خیــال تیــارې رڼا شوې دا اختــر د لیــونـــو ؤ

جامونه چې خالي شول نـزاکـت لــه بـزمه والــوت
خورې شوې خندا گانـې دا محشـر د لـیــونـــو ؤ

د زړه شیشې مې ماتې شوې ارمان زخمي زخمي شو
صیــاده چې پرې پوه شـوم دا ضـرر د لـیــونـــو ؤ

۲۱/ ۱۱/ ۱۹۹۷/ د کابل پوهنتون

☆☆☆

# نوښت

ما تـه نوی کتاب راوړه ‘ما ته نـوي مضمـونـونـه
زه طالب یم نـوی نـوی ‘ ما ته نـوي مکتبـونـه
بابا بس کړه دا داستان دی دامی سل ځل اوریدلی
دا زړی کیسی شوی ختمی, ما ته نوي داستانونـه
هر مزه کا چی وي نوی, هر پـدی تکل اوسیـږي
زوړ تکل په زړه کی خوړین شو اوس څه نوي تکلونه
دا د عشق لاره زړه شـوه, دی وفا وفـا رانـه وړه
غـواړم لاره کړم بـدلـه واخلم نـوي منـزلـونـه
زه د زوړ کاروان پیرو وم, چـی اسباب یی ومښلي
ښه شوه دا رابدرگه شول نـوي نوي کاروانـونـه
په بیړی کی دبخت سپوروُم هیڅ منزل می معلوم نه ؤ
اختـراع د فکـر نوی, راوړل نـوي سـاحلـونـه
دا یو سوال د زمانو ؤیـو ځـواب یـی چلیـدلـو
راپیدا کړل نوفکرانو د سوال نـوي ځـوابـونـه
نه یې سترگی شوی بدلی, نه ماده کی کوم فرق راغلو
ولی بیا ساینسدان وایي هر وخت نـوي نظـرونـه
د صیاد په تصور کی چی کوم نوی خیال پیدا شـي
شکل نوی ورته ورکړي, کړي تخلیق نـوي فکـرونـه

۱۹۹۷/۱۰/۶ پیښور

☆☆☆

# غـــزل

ای زمـا د ژونـد مالکـه،ای په زړونو خبـرداره
دا زړگی زمـا تـا ئب کـړی ای زمـا د زړه رازداره

گمراهیو باندی سریم، د ژونـد لاره مـی ده ورکـه
په سراب پسی زغلیږم ځوك می مل نشول آبـداره

د صبرونو بند تـړمه د غمونو سیلابو تـه
موشگافي ده بند به نشي،دا سیلاۇ دی ډیر زورداره

سمندر می دی د اوښکو په لیموکی جمع شـوی
دا باران به راوریږي کـه جلا دی کـړه تـگ لاره

لـه مودو مودو نهـر وم، لـه ډیر وختـه منتظـر وم
اوس نظر یی په اغیارو زه یـی دوریـم لـه بنـداره

ای زما د زرگي دمه! ای زما په تن کـی روحـه!
په شیشه د زړه می درومـی، لـږ قـدم ږده پـه قـلاره

تا چی ځان په نخرو سره کړ تا چی زلفی تار په تار کړی
زمـا هـر کلام شـو شعـر، متأثر ستـا لـه شـعاره

ځه صیاد پسی نن ورشو، لږېږ خپل محفل کی ځای کړو
جلا کړیدی دوستانو هم دی دور لـه خپـل دیـاره

۱۹۹۷/۱۰/۲۸/پیښور

☆☆☆

# کانړی

زه یو کانړی قدرمن وم
د هسك غر په څوکه پروت ؤم
تماشې مې دجهان کړې
سپینو واورو تیز بادونو
له خپل ځایه بېځای نکړم
یوه کوتره سیلانۍ وه
تکه سپینه لکه حوره
زما سر باندې دمه شوه
ددې خپولاندې جادو ؤ
زه بې هوشه شوم راخوې شوم
لاندې لاره کې ګوزارشوم
اوس یو کانړی شوم دلارې
دهر چاپه خپوکې رغړم

۲۹/۱۰/۱۹۹۷/ پېښور

☆☆☆

# زه تماشه یمه

داسې راته مه ګوره که نه زه تماشه یمه؟
سترګې رانه واړوه پخپل غم کې اخته یمه

سترګې مې بې باکه د چا غم کې ړندې شویدي
کور باندې میلمه یمه صحرا باندې قربه یمه

تن مې ټول اغزي اغزي هر هډ باندې مې اورلګي
ځان رانه ساته ګوندې د اور بله لمبه یمه

ړوند دې کړمه، هیر دې کړمه، ځان نه دې جدا کړمه
بیادې هم په زړه ساتمه خومره لوې ساده یمه

سترګې دې لمبې لمبې شوې غشي' د صیا د شولې
صبر کړه ګوزار لره آخر د خدای بنده یمه

۲۸/۱۱/۱۹۹۷/ باغ بالا ـ کابل

☆☆☆

# د آنا زهر

اول زهـــر وو د عَـشـق بيـــا د آنـا شـــــول
اوس په زهرو د بيلتـون ژونـدون رنگيـن شـــو

ستا د دوه ورځو وفا وه' اوس دی ټول عمر جفا شوه
دازړگی می باور وکه 'په گوگل کی راته خوږين شو

ما دا طوق له خپلی غاړی، به لا وخته ؤ شلولـــی
په سبب د پيغورونو' راته هرڅه نه شيريـن شـــو

بيا يي آ نظر ونكړو' هغه سپين لاسونه يي مات شول
چی له ښځ به می چاپير وو' ما ته ياد به لونگين شو

اوس می زړه مظلوم گوتلي' د چا زهر د جفا دي
ښه ده دا د ژوند يوگام دی، د صياد عزم متين شو

دسمبر ۱۹۹۷/۲٤ پيښور

☆☆☆

# شي مينه په رښتيا

خوښي آخه خوښي چې د فنا په غيـږ کـې وي
څه ژونـد وي د ډيوی چې د هوا په غيږ کې وي
په تشو پيغورونو يې زړګې مـالـره تـورکـړو
بس پری به يې ږ دو آشنا چې د افوا په غيږ کې وي
په مينه کې صلـه چـې چا تـه رسي رسوايـي ده
شي مينه په رښتيا چـې د رسوا پـه غيـږ کـې وي
ګاونډ ته څه کليف دی چې زمونږ په بابله سوچ کړي
پريـږده يې چې کړيږي د سودا په غيږ کـې وي
بـيا هلـه به پيغور د زمانې په ځـان قبـول کـړم
چـې ستا سر زما غيږ يـا زما ستا پـه غيږ کې وي
مسيح چې راسـره وي لـه اجلـه نـه ډاريـږم
د مرګ پرښتې راشه کـه آقا پـه غيـږ کـې وي
بـيـا هله يې لاس لنډ شي د ژوندون لـه خوږلنيو
چې روح شي ترمرۍ ځان د بلا پـه غيـږ کـې وي
اوس ما تـه ناصح وايي چې د ميوګوټ حرام دی
صيـاد خوښ دی پدا چې د ګناه په غيږ کې وي

پيښور/۱۹۹۸/۱۱/۲۰

☆☆☆

# د څوانۍ هیلی

راښکل د توري په مرۍ پاتې دي
لاهیري هیلی د څوانۍ پاتې دي

زه به نغمې دگل بلبل څه کړمه
دلته نغمې چې د وروري پاتې دي

د جانان غمه رانه چیرته درومې
زړه کې ورې ورې سلګۍ پاتې دي

یو دیدن راکه د نظر رانجه شه
د پیغورونو دي ډالۍ پاتې دي

په تو پانو د عشق صیاد لاهو دی
بچ کیدل ګران د یرې سیلۍ پاتې دي

۱۹۹۸/۱۱/۲۵

☆☆☆

# انقلاب

داسور رنګ دويني ګورئ
دلسور رنګ دانقلاب دی
چې دوينو په زور درومي
دا هغه شان سور سيلاب دی
او خاطر دهيچا نکړي
دتور سرو ماشومانو
تيره تيغ څخه يې باسي
مسمٰی په چند القاب دی
چې سرونه پکی رغړي
اوتنی پکی پايمال شي
خپل هدف لره وردرومي
لکه تندر په شتاب دی
د ملت غوښی يې خوړ دی
د معصومو خون شراب
په پنجو يې ريزمريزکړي
داهغه بی ترس عقاب دی
نه يې زړه شته چې زهيرشي
نه يې تن شته چې ذليل شي
نه يې روح او نه يې عقل
او روان دده اسباب دی

زه خو وایم را شئ کینو
دا اورخود به خود مړ کیږي
په یو وهم پسی ځغلو
دا هیڅ ندی تش سراب دی
د توپان دورتیر یږي
نور دابحر آرامیږي
صیاد وایي اوس ساه واخلئ
ددی سوال آسان ځواب دی

۲۰/۱/۱۹۹۸/ پیښور

☆☆☆

# غــــزل

زه د اور یو سمندر یم، د لمبو په کــورکې اوســم
لـه سـره تاوه لذت اخلم، د نغمـو پـه سـور کې اوســم

زه یو پنډ د ارمانو نو، د منـزل لـوری تـه یُون کـړم
زه بـیـړی،تـوپاني شـوی، دڅپـوپه شـور کې اوســم

زه بـه گـل شــم زه غـړیږم د سپرلـي لږ انـتـظـار دی
د مالي لا پروایـي ده، پـه گـلبڼ سمسـورکې اوســم

د ظـالـم په کـو پړی،تـندر، د مـظـلوم پـه سر سایـه یم
یـم لا اوس هـم پـوروړی، د وطـن پـه پـورکې اوســم

ټټر ډال اومتې توري په سرحد د مینـی جـنـگ کـړم
میـړنی یمه د میـنــی، د جـولان پـه اورکې اوســم

دصیاد په تندي باندی، ستا د عشق صلیب ځـلـیـږي
بس همدا فخر می بس دی چی د عشق په تورکی اوسم

☆☆☆

پیښور/ ۱۹۹۸/۳/۷

# غزل

روح مې له تن والوځي له سترګو مې تور وتښتي
تا چې کله ووينم له خپو نه مې زور وتښتي

ته چې رانه وپوښتې بې تا به د جوابه شم
سپينې تلې پاتې شم له خولې نه مې شور وتښتي

زړه مې لکه بازغوندې په زړه باندې قابولري
مينې ته ايسار شي که د غرونو په لور وتښتي؟

ستاډېر ملامت يمه محسن مې يې ګانه مې کړه
ځوان مې دې افغان ضمير دانه چې له پور وتښتي

هر محفل کې ځان ورته اوس ستا د مينې غل ښکاري
کوم خواته صياد د ستا د مينې له تور وتښتي

۱۹۹۸/۹/۲ /جلال آباد

☆☆☆

# مریض دمحبت

مریض د محبت یمه رنځونه سزا خورم
لحظه راته قیامت شو تهول وختونه سزا خورم

یو لفظ می خطا کړیدی اوس هم پری اعتراف کړم
توبه می نه قبلیږي اوس لفظونه سزا خورم

په مینه کی یې وسومه افسوس چی لمبه نه شوم
له خولی یی نه پریوځم پیغورونه سزا خورم

چی وخت ؤ نوی نوی نو یې غیره کی راګیر وم
په مینی چی مړه شوه اوس کلونه سزا خورم

تنها کی می د چاله لاسه ماتی شوی په زړه
اظهار کولی نشمه زخمونه سزا خورم

صیاده شرط یی دادی چی پښتو ورسره پریږدم
پښتون یمه انکار کووم شرطونه سزا خورم

۱۹۹۸/۹/۲۹ پیښور

☆☆☆

## قطع

کله ژیړه باد وهلی الوچه شي
کله سره شي د موسم تازه منه شي
صفتونه او رنگونه یې بې شماردي
خوچې سره سپینه شي هرڅه نه بنایسته شي

☆☆☆

## قطع

داپند داناليری کړو پخپلوکی راځه
راځه چې سره دواړه نن پخه وکړو وعده
څوك دومره اوزگار ندي چې به مونږ سره پخلا کړي
نه څوك به څوك پخلا کړي نه څوك دومره دي ساده


☆☆☆

PROPERTY OF ACKU 9277

## قطعه

په عدم کی یمه ناست دخپل اغیار یار
داځه رنگه کاروبار کی گرفتاریم
کله شونډی یی گلاب کله انگار شي
ورگډ شوی دغزلو په بازاریم.

☆☆☆



ښاغلی محمد رفیع صیاد د ډګروال محمد ساقي زوی پر کال ۱۳۵۰هـ د ننګرهار ولایت د روداتو د ولسوالۍ په اخون کلي کې زېږېدلی دی. خپله زده کړه یې تر دویم ټولګي پورې په حصارک مزیني لومړني ښوونځي کې وکړه او بیا پر کال ۱۳۵۸ یې پېښور ته هجرت وکړ، چې نور ټول تعلیم یې په پېښور کې ترسره کړ.

پر کال ۱۳۶۹ د حضرت صدیق اکبر له لېسې څخه فارغ او پر کال ۱۳۷۱ د دعوت او جهاد پوهنتون د ادبیاتو پوهنځي انګلیسي څانګې ته بریالی او تر درېیم ټولګي پورې پدې پوهنتون کې محصل او پر (۱۹۹۵) چې کله د دعوت او جهاد پوهنتون په پېښور کې وتړل شو، نو لومړی جلال اباد او بیا کابل پوهنتون ته لاړ، چې بالاخره پر ۱۹۹۶ یې د فراغت سند په ډېرو عالي نومرو تر لاسه کړ. ښاغلی محمد رفیع صیاد اوس په جلال اباد کې په فرهنګي او دفتري چارو کې بوخت دی.

له شعر او شاعرۍ سره یې شوق له کوچنیتوب څخه و، خو شعر ویل یې پر کال ۱۹۹۸ پیل کړ.

همدا اثر د شاعر لومړی کتاب دی، امید دی، چې ښاغلی صیاد به د پښتو ادب په بڼ کې ښایسته ډېر ګلونه وکري.

له لوی خدای (ج) څخه ورته د ښه ژوند او نور پرمختګ غوښتنه کوو.

محب الله اسرار

۱۷/۸/۲۰۰۰

پېښور